اندیښمن شینواری

۲۰۱۱/۰۸/۱۲

# اصیل پښتون پښتونستان خوښــوي
# چې پښتون نه وي پاکستان خوښوي

اصل خبره به په نسب باندې شروع کړم، چې په ګرده پرمختللې نړۍ کې اوس هم اصل او نسب ته ترجیح ورکول کیږي، که څه هم پدې سره اجتماعي او ټولینز عدالت نشي رامنځته کیداې ولې چې خلک په قومونو، نسبونو او کټګوریو باندې ویشي.

خو دا خبره هم په اثبات هم رسیدلې ده چې چیرته چې ډب نه وي هلته ادب نه وي، مطلب مې د اصل او نااصله نسب څخه دی.

او دغه خبره ملنګ جان بابا په ډیر جرات او متانت سره د شعر په ژبه مونږ ته کړې ده کومه چې پاس ذکر شوه. په اسلام مبارک دین کې هم اصل او نسب ته ځو ځایه اشاره شویده لکه یو حدیث مبارک کې چې راغلې (که تاسې کومه ښځه په نکاح باندې نیسې نو باید دهغې څلور شیان په نظر کې ونیسې، لمړې دهغې کورنۍ، نسب، دهغې ښایست او څلورم هم چې هغه مالداره وي). همدارنګه د افغانستان په اساسي قانون کې هم پخوا اصل او نسب ته پوره کتنه شوې وه، او هر هغه څوک چې اصلي نسب والا خلک نه ؤ هغوي ته به کومه لویه رتبه نه ورکول کیدله. چې د اصل او نسب په باره کې یوه هم هغه کیسه ډیر مشهوره ده چې کله دافغانستان شاه ظاهر خان یو مکتب ته ولاړ، چې ئې ولیدل نو یو استاد یو زده کوونکې په لښته سره وهلو، ظاهر خان هم راغې او د استاد نه ئې لښته واخسیتله او زده کوونکې ته ئې په لاس ورکړله چې ګویا خپل استاد نه دی خپل بدل واخله مګر زده کوونکې هیڅ دیته اماده نشو چې دا کار وکړي، همدا ؤ چې ظاهر خان د خپلې تجربې دحاصلولو لپاره په ټولګې کې ټولو ته ووئیل چې څوک هم غواړي د استاد نه خپل بدل واخلې نو را دی شي او پدی لښتې سره دی استاد ښه ووهي، چې پدی ټولو زده کوونکو کې یواځې یو زده کوونکې دیته اماده شو او استاد ئې په لښته سره ووهلو، کله چې د هلک د نسب په باره کې پوښتنه وشوه، نو هلک په نسب باندې نائې وختو، هماغه ورځ شوه چې ظاهر خان هم په بې نسبو خلکو باندی اوچتې عهدې سمبالول او په حکومتي چارو کې لوړ مقام ته رسیدل بند کړل. خو نه پوهیږم د کله نه چې دافغانستان حکومت د بې نسبو په لاس کې لوئیدلې، بیا ئې ښه ورځ نه ده لیدلې.



راځم خپل هغه مطلب ته کوم چې زه ویل غواړم.
په افغانستان کې که څه هم ډیر قومونه اباد دی او ټول د افغانیت دعوا کوو، خو افغانیت، انسانیت، اسلامیت او شرافت مو په تاریخ باندې معلوم دی. ټول د ایمانداری دعوي کوو خو ایمانداري مو هم سره معلومه ده او همداسې نور.
دغه خبره مې هم د افغانستان د مسلحو قواوو دارکان حرب رئیس ( لوي درستیز) ښاغلي شیرمحمد کریمي په باره کې ولیکلې، او هغه هم پدې خاطر چې پښتنې مور همیشه دوخت سره سم داسې یو زوی زیږوې چې ساری نلري.

ښاغلي شیرمحمد کریمي یو داسې سیاسي او مدبر سړی دی چې دافغانستان د سیاسي کسانو په لست کې یو ککره هم دغه دی او په پښتو،پښتونوالې، پښتونخوا او پښتون مین شخص دی.

شمالي ټلوالې ټولې څیرې خو اوس مونږ ته څرګندې شوی او دهغوي ټول هغه قراردادونه چې دپښتون په سر باندې ئې د امریکائي او ناټو قواو سره کړی ؤ، چې دهغې د ډلې نه هم خپل سرې عملیات، د افغانستان حکومت ته هیڅ کوم قسمه ټیکس (مالیې) نه ورکول، دیو افغان وژنه سرعام په سرک باندې او دهغوي د عسکرو نه محاکمه کیدل دافغانستان حکومت اود افغانستان د محکمې له خوا، او بله هم د افغانستان د سرحدونه دامریکې او برطانیې ګوډاګې پاکستان سره معلومول او ټاکل ؤ.



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دغه د سرحدونو خبره په پوره جرات او ميراني سره ښاغلي شيرمحمد کريمي په هغه تلويزوني غونډه کې چې ښاغلي سلطانزوی ئې نطاقي کوي وکړلې، کله چې ښاغلي سلطانزوي د لوي درستيز څخه دپاکستان د راکټي بريدونو په باره کې پوښتنه وکړله، چې ګويا ته د مسلحو قواو سرپرست په صفت ولې دپاکستان تيريو ته ځواب نه ورکوی؟
او يا هم ولې د پاکستان په خاوره باندې يرغل نه کوی؟ په هغه صورت کې چې هغوي زمونږ په حريم باندې د وخته تيری کړيدې او بوخت دی کوي ئې؟
ته ديو صاحب منصب د ارکان حرب رئيس په صفت او ديو غير نظامي سياسي شخص په صفت دغو بريدونو ته په کوم نظر ګوری؟

په ځواب کې ښاغلي شيرمحمد کريمي ورته وويل چې؛
ښاغلي سلطانزوی سيب، اول به هم درته دا ووايم چې دغه خاوره(افغانستان) څخه هر سړي او ښځې په خپل وخت سره دفاع کړيده او ساتلې ئې دی، نه تنها اوردو او يا هم پوليس بلکه هر فرد ددغې خاوری او ټولني په خپل وخت سره يو عسکر دی.
افغانستان اوس له مختلفو مشکلاتو سره مخ دی لکه د امنيت مسله ده، اقتصادی مشکل لرو، او هم سياسي مشکلات لرو، خو که دپاکستان بريدونه پدې خاطر وي چې ګويا هغوي غواړي زمونږ په خاوره تجاوز وکړي، او يا هم زمونږ د خاوری يو برخه غواړي چې خپله ئې کړی، نو دا دهغوي غلط سوچ او فکر دی ولې چې ددی وطن هر بچي نر او ښځه تياره دي چې پاکستان ته غاښ ماتوونکي ځواب ورکړی سره ددی دومره حجم او فوځ سره. خو دلته نور څه روان دی. مونږ بايد خپله هوښارتيا ،خپله سياسي هوښيارتيا، او خپله اجتماعي هوښيارتيا له لاسه ورنکړو.
مونږ د امير عبدالرحمان خان د وخت (۱۸۹۳) نه راپديخوا چې د ډيورنډ خط او معاهده امضا شويدې، دادی دسلو کالو څخه زيات پوره شويدی، مونږ حق لرو چې دغه معاهده نوره رد کړو، او مونږه حق لرو چې د هغې خاوری په باره کې چې همدا اوس د پاکستان په ولکه کې ده تصميم ونيسو. په هغه وخت کې هم يو سياسي لوبه روانه وه چې دا لوبه د استعماری قوتونو لخوا په منطقه کې رامنځته شوه او زمونږ خاوره ئې تجزيه کړله، زمونږ سرحد معلوم دی. زمونږ سرحد د سند دريا‌ب دی بلکه چترال هم زمونږ په قلمرو کې راځي. مونږ اسناد لرو چې چترال هم دافغانستان دخاوری څخه کنټرول کيدو.

پاکستان دا مني، دپاکستان اردو هم دا مني چې مونږ د ډيورنډ توره کرښه په رسمياتو نه منو، او هغه هم په دی دليل چې د پاکستان د منځته راتګ څه دپاسه ۶۰ کاله کيږي، او پدغوڅه دپاسه شپيتو کالو کې هغوي ددغې خاوری هيڅ کومه دعوا نلرله، بلکه برعکس مونږ ورسره دعوا لرو، چې پښتونستان زمونږ دی، بلکه په لاندی ټولو ځوانانو به هم دغه په تاريخ کې لوستلې وي چې دا زمونږ حق دی.

اوس سوال دادی چې پدی ۶۶ کالو کې چې تاسي هيڅ کومه دعوا نلرله نو اوس تاسي څنګه داخبره رد کوی چې د ډيورنډ خط چې داسي کش کړل شويدی دا داسي نه بلکه دا داسي دی؟ مونږ خريطه لرو، ايساف زمونږ خط هم رسم کړيدی او دهغوی خط ئې هم رسم کړيدي، په بعضې ځايونو کې ئې ۵ کيلو متره او په بعضې ځايونو کې ئې ۳ کيلو متره زمونږ په خاوره کې دغه خط را ننويستلي دی او ادعا کوي چې دا د ډيورنډ خط دي نه بلکه دا خط.
اوس پدی مسله کې ولې مونږ ځواب نه ورکوو؟ مونږ ځواب پدی خاطر نه ورکوو چې دا هم يوه بله سياسي لوبه دوي روانه کړيده، او غواړی چې بين اللملي ټولنه هم پدی کې وعدی داره کړی چې راشي او وګوری چې دلته داسي مداخله وکړی چې ټول په ګډه سره وګوری چې سرحد په کوم ځای کې دی او يو ددی خطونو نه بايد قبول کړای شي يا دا خط او يا هم دا خط، چې دا ټول د پاکستان په نفعه او ګټه دی او مونږ ته وائي چې دا بايد تاسي امضا کړی، او په غير مستقيمه توګه مونږ وعداره کوي چې مونږ بايد د ډيورنډ کرښه په رسميت وپيژنو، او دا ټوله خبره هم دلته ده، ددوي د انداختونو او د راکټي بريدونو هدف هم دادی چې مونږ تحريک کړی تر څو برعکس مونږ يو عکس العمل وښايو، خو زمونږ جمهور رئيس په ډير سياسي ډول هغوي ته ماتي ورکړه او دا ئې اعلان کړله چې مونږ نه غواړو د پاکستان په خاوره باندی تيری وکړو. دا په کوم دليل؟ دا پدی دليل:
که مونږ په پاکستان تعرض وکړو نو مونږ به څوک ولو؟
په هغه طرف څوک دی؟

ځواب:
زمونږ خپله خاوره ده او زمونږ خپل ورونه دی، او مونږ به په پاکستان نه بلکه په خپله خاوره تيري او تعرض کړی وي، نو په همدې خاطر مونږ نه غواړو چې دغه سياسي لوبه په اصطلاح د تخت تاثير د (تاثير لاندی) راولو او ددی


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ترڅنګ خپله ائينده هم د سوال لاندې راولو دوي که مونږ هر څومره مونږ تحريک کړی مونږ به بيا هم منفي عکس العمل نه وښايو، او بين المللي ټولنه هم بايد پدی په دقت سره ځان پوی کړی.
بله دا چي ما نن دا په سراحت سره په هغه عمومي ايساف، ناټو،اوردو، او پوليسو په ګډه عمومي جلسه کي دا وويل چي لاندی ناست ځوانان او ورونه شاهد دی چي داما په سراحت سره وويل چي زمونږ سرحد د ډيورنډ کرښه نه بلکه زمونږ سرحد د سند درياب دی. پدی اساس مونږ هيڅ ديته اماده نه يو چي مونږ دی په ډيورنډ په کرښه سره خبرې وکړو، او له تاسي هم غوښتنه کوم چي ما ته کله هم ونه وائي چي راشه کينه، هيئت تعين کړه چي کومه کرښه صحيح ده، دا که دا؟
او لاندی ناست ځوانان خويندې او ورونو ته هم دا وايم چي يو سياسي لوبه روانه ده او غواړي چي مونږ تحريک کړی چي عکس العمل وښايو، خو مونږ نه ويريږو، مونږ هرڅه لرو او دهر څه نه اوچت مونږ غيرت لرو، او تاسي ته هم دا وايم چي په دا قسم مسائيلو کي دا وطن له مونږ سره دي او تاسي بايد هيڅ کوم داسي فکر، ويره او يا هم ترس په زړه کي ونه ساتي، بلکه سياسي هوښيارتيا مو له لاسه ورنکړی.
په سياست کي يو کس ځني لوری، ژوری زغمي او قبلوي مګر په خپل وخت او موقع سره ئي ځواب ورکوي.

دا خو دافغانستان د لوی درستيز وی چي په يوه تلويزوني خپرونه راځم او د يو بل مدبر پښتون ذکر بر پښتنو د يو ځای کيدلو لپاره نه کړيدي او کوي ئي. دی هم ديو چي پرون په جار سره دا خبره ويشل نشو زغملي او نه ئي هم (ايجنسياني) د خيبر پښتونخوا سره پښتانه چي په بلوچستان کي ميشت پښتونخوا په نوم يو بله صوبه يا زياته کړله چي دا غوښتنه مونږ د کوو، او نور نه غواړو چي پښتانه د دا خبری پرون د عوامي ملت چي پکي صوبائي ستر مشر




شيرمحمد کريمي هغه څرګندوني کي ئي کړی وی، خو اوس هم کول غواړم چي هغه هم د لر او ستری کيدونکي منډي تړړي هغي ستری پښتني زوی دی چا وکړله، چي مونږ نور دپښتنو قبلوو. بلکه مونږ غواړو چي فاټا وتړو، او همدارنګه هم هغه دی هغوي ته بايد د جنوبي هم ولايت ورکړل شي. هغه دا هم پاکستان ددولت نه په کلکه سره دی داسي تيت و پرک وی سره. پاله ګوند په يو غونډه کي وکړلي ښاغلي عبدالطيف افريدي، او صوبائي وياند ښاغلي ارباب طاهر خليل هم ناست ؤ. ښاغلي افراسياب خټک دا هم ووئيل هيڅوک هم نشي کولاي چي دپښتون قوم ترمنځ کوم درز را منځته کړی ولي چي دا يو ملت دی، او هيڅوک دی هم زمونږ په جعرافيوي موقيعت او ميشت کيدلو باندې زړه نه خوشحالوي.
د ښاغلي افراسياب خټک سيب ويناوې تاسي په لاندې لينک سره کتلي شي. ومن الله التوفيق

http://nation.com.pk/pakistan-news-newspaper-daily-english-online/Politics/10-Aug-2011/ANP-wants-Balochistan-division


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ